

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباد‌ي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

ګڼه: ۲۶ | مسلسل نمبر: ۱۱۶

پنجشنبه، د ربیع الاخر ۹مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

## په نږدې راتلونکې کې به د بخش اباد خاکي بند عملي چارې پیل شي



۲ صفحه

## په تخار ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



۲مه صفحه

## د ارغندۍ سبسټېشن پراختیایي چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي



۲مه صفحه



## سرلیکنه

ترانسپورټ د هر هېواد د اقتصادي او ټولنیزو زېربناوو یوه اساسي برخه ده او د هرې ټولنې په پرمختګ او پراختیا کې د دې اهمیت د لمر غوندې روښانه دی. په افغانستان کې د جغرافیوي موقعیت او د خلکو د ورځنیو اړتیاوو په پام کې نیولو سره، د ترانسپورټ سیستم هغه که هوایي او که ځمکنی ترانسپورټ دی، ښه‌والی او پرمختګ یې په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې مهمه ونډه لري. دغه راز د برېښنا له پاره د زیربناوو لکه برېښناکوټونو(سب سټیشنونو) جوړول او پراختیا، د برېښنا د غځولو او ویش سیستمونو او دې ته ورته نورو برخو جوړول هم ډېر مهم دي. اسلامي امارت د ترانسپورټ او برېښنا د زیربناوو جوړولو او هغو ته د پراختیا ورکولو په برخه کې اساسي ګامونه اوچت کړي دي. د هېواد په کچه لویو لارو او لویو ښارونو کې د لارو او سړکونو، د هېواد په زونونو کې د معیاري ترانسپورټي ترمینلونو او یا هم د هوایي ترانسپورټ د پراختیا له پاره یې د کابل په هوایي ډګر کې د معیاري انتظار خونې جوړولو او رغولو ته لومړیتوب ورکړی دی. د دې ترڅنګ یې د هېواد د برېښنا سکټور د زیربناوو رغولو ته هم مخه کړې ده. د معیاري ترانسپورټ په برخه کې د هېواد د نورو برخو سربیره په کابل ښار کې له هنګرا څلورلارې تر قصبې، د هوایي ډګر له څلور لارې تر ګمرک پورې غځېدلي سړکونه، د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه، له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل پورې غځېدلی سړک او د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل جوړول یې ښې بیلګې دي. د دغو سړکونو او ترمینل د جوړېدو چارو پرانیسته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري وشوه. دغه راز په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د معیاري انتظارخونې جوړول د هوایي ترانسپورټ د معیاري کېدو په برخه کې یو مهم ګام دی. د دې پروژو چارې تر ډېره بریده پرمخ تللې او د ځینو خو یې له قرارداد سره سم په نږدې وخت کې چارې بشپړېږي او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. د برېښنا په سکټور کې د ارغندۍ برېښناکوټ پراختیا بیا د برېښنا د زیربناوو د جوړولو او پرمختګ په برخه کې یو رغنده ګام بللی شو. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد د هغو سکټورونو پراختیا ته مخه کړې ده چې پر مټ یې کولای شو، خپله سوداګري پراخه او اقتصادي وده لا ګړندۍ کړو. د ترانسپورټ سکټور په معیاري کېدو او پراختیا سره به د مالونو او مسافرو په انتقال کې اسانتیا، د وخت او مالي لګښتونو کمښت، د عامه خدمتونو او کورنیو او بهرنیو بازارونو ته د لاسرسي له پاره زمینه برابره شي. د برېښنا سکټور په پرمختګ سره به د هېواد صنعت وده ومومي او صنعت چې څومره پرمختګ وکړي، په هماغه کچه به زموږ اقتصاد پیاوړی او غښتلی شي. د دې ترڅنګ به په دغو سکټورونو کې پرمختګ او د پروژو په عملي کېدو سره په هېواد کې د بې کارۍ کچه راټیټه او ورسره به بې وزلي له منځه ولاړه شي. له بل لوري به په دې سکټورونو کې د کورنۍ پانګونې ترڅنګ بهرنۍ پانګونې ته هم لار هواره شي. که په لنډ ډول ووایو چې دغه دواړه سکټورونه د هېواد د ابادۍ او پرمختګ له پاره ډېر مهم دي، مبالغه به مو نه وي کړې. همدا لامل دی چې اسلامي امارت دې سکټورونو ته خپله پوره پاملرنه کړې او هڅه یې داده چې د دې سکټورونو په مرسته وکولای شي خپل اقتصاد ورغوي او هېواد د سوکالۍ او بادۍ په لور رهبري کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي
هفته نامه آبادی


## په نږدې راتلونکي کې به د بخش اباد خاکي بند عملي چارې پيل شي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په لومړۍ نېټه په خپل کاري دفتر کې د فراه ولايت له علماوو او قومي مشرانو سره وکتل. د ليدنې پر مهال د فراه ولايت علماوو او قومي مشرانو د فراه ولسونو د اوبو کمبت، برېښنا او ټرانسپورټ په برخو کې موجودې ستونزې شريکې کړې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د يادو ستونزو د حل په موخه د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولينو ته سپارښتنه وکړه، څو د موجوده امکاناتو په صورت کې ورته رسېدنه وکړي.

په ناسته کې يادو مسوولينو ډاډ ورکړ، چې په نږدې راتلونکي کې به د بخش اباد خاکي بند او د فراه ولايت له مرکز تر فراه رود پورې د غځېدلي سړک عملي چارې پيل شي او همدارګز به هڅه وکړي، څو د وارداتي برېښنا پر مټ او يا هم د خصوصي سکتور له لورې د لمريزې برېښنا د توليد په برخه کې د پانګونې له لارې د دوی د برېښنا ستونزه حل کړي.



## په تخار ولايت کې د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه چې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په لومړۍ نېټه مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه، د تخار ولايت مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه يې د تاييد وړ وبلله او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه.

د دغه څلور پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو لپاره خصوصي سکتور ۱۱۰ ميليون افغانۍ پانګونه کوي، چې لسګونو هېوادوالو ته به د کار فرصتونه برابر کړي.



## د ارغندۍ سب‌سټېشن پراختيايي چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي



د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي ټيم د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په پنځمه نېټه د ارغندۍ سب‌سټېشن پراختيايي چارې له نږدې وکتلې. د اوبو او انرژۍ وزارت او قراردادي شرکت مسوولينو ووېل، د دغه سب سټېشن پراختيايي چارې د پلان مطابق د وخت او کيفيت په پام کې نيولو سره په ښه ډول رواني دي، چې اوسمهال ۷۵ سلنه بشپړې شوې دي. هغوی په يوشمېر برخو کې خپلې ستونزې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت له تخنيکي ټيم سره شريکې کړې او ويې ويل، که يې ستونزو ته په وخت رسېدنه وشي، په راتلونکو ۷ مياشتو کې به د پلان مطابق د پروژې چارې بشپړې کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي ټيم دوی ته د يادو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او د پلان مطابق يې د کارونو پر کيفيت ټينګار وکړ. د ارغندۍ سب‌سټېشن پر پراختيا شاوخوا ٦۰۰ ميليونه افغانۍ لګښت راځي، چې د چارو په بشپړېدو سره به يې ظرفيت ۴۰۰ ميګاواټه ته لوړ شي. د ارغندۍ سب سټېشن د پراختيا او له الوان دښتې تر ارغندۍ سب‌سټېشن پورې د برېښنا مزي غځولو پروژو په بشپړېدو سره به له ترکمنستان څخه شاوخوا ۱۰۰۰ ميګاواټه برېښنا انتقال او د کابل په ګډون به د ۱۳ ولايتونو د برېښنا ستونزه حل شي.

د يادونې وړ ده چې د ارغندۍ سب‌سټېشن د پراختيايي چارو پروژه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لورې د تېر ۱۴۰۳ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۷مه نېټه پرانيستل شوې وه او د بشپړېدو لپاره يې دوه کاله وخت ورکړل شوی دی.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلــو په برخـه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي



# د ارغندی ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي



د رياســت‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي تيم د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په پنځمه نېټه د ارغندی ترانســپورټي ترمينل پــروژې چارې له نــږدې وڅارلې. د ترانســپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولينو وويل، د دغه ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارې د پلان مطابق د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره رواني دي، چې اوسمهال ۲۵ ســلنه پرمختګ لري. دوی وويل، د دې پروژې د تطبیق لپاره دوه کاله وخت ورکړل شــوی، چې په ښه کیفیت سره به يې په ټاکلي وخت چارې بشپړې کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي تيم د ترانســپورټ او هوايي چلند وزارت له مسوولينو څخه منته وکــړه، چې د پــلان او وخت په پام کــې نيولو سره يې د پروژې چارې رواني دي؛ خو هغوی ته يې په يوشمېر برخو کې موجودي ســتونزې په نښه او د پروژې د لا ښه تطبيق په موخه يې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

د ارغنــدی ترانســپورټي ترمينل پــه ۹۱۴ جريبه ځمکه جوړيــږي، چې يو ميليارد او ۲۸۵ ميليون افغانۍ لګښــت پرې راځي. دغه ترمينل په يو وخت کې د زرګونو مســافر وړونکــو او بار وړونکــو موټرونو د ځايلــو ظرفيت لري او همــداراز د مســجد، تمځايونو، پارکينګونو، رســتورانټ، دوکانونو، روغتون، اور وژنې سيســتم، ورکشاپ او نورې اړينې اسانتياوې په پام کې نيول شوي دي.

د يادونې وړ ده چې د ارغندی ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارې د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لــوري د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د حمل مياشــتې په دربيمه نېټه له پرانيســتې سره سم پيل شوې وې.



# اخبار اقتصادی هفته

## وزارت اقتصاد: تحریم‌های تازه سازمان ملل علیه ایران به زیان افغانستان است

وزارت اقتصاد تحریم‌های تازه اقتصادی و تجاری سازمان ملل علیه ایران را به زیان افغانستان می‌داند .مسؤلان این وزارت می‌گویند که کابل و تهران پیش‌تر برای افزایش سطح مبادلات تجاری تا مرز ده میلیارد دالر توافق کرده بودند، اما تحریم‌های تازه می‌تواند این توافق و روابط اقتصادی دو کشور را با چالش روبه‌رو کند. عبداللطیف نظری، معین مسلکی وزارت اقتصاد، در این باره چنین گفت: «پروژه‌های مشترک میان ایران و افغانستان با محدودیت‌ها روبه‌رو خواهد شد، کالاهایی که از مسیر ایران به کشورهای دیگر ترانزیت می‌شوند با چالش روبه‌رو خواهند شد و همچنین کسب‌وکار و سطح درآمد ما نیز با محدودیت ها و مشکلات مواجه خواهد شد.» این در حالی‌ست که سازمان ملل متحد در کنار تحریم‌های هسته‌ای و نظامی، تحریم‌های گسترده‌ای را بر معاملات تجاری، حمل‌ونقل و تجارت بین‌المللی ایران نیز وضع کرده است. در خبرنامه سازمان ملل آمده است: «بخش‌های تحریم‌های تازه سازمان ملل بر ایران، شامل ممنوعیت فروش و انتقال تسلیحات، محدودیت بر فعالیت‌های هسته‌ای و غنی‌سازی اورانیوم، فعالیت‌های مرتبط با موشک‌های بالستیک و برنامه موشکی ایران، مسدودسازی دارایی‌ها و تحریم‌های مالی هدفمند، ممنوعیت سفر و محدودیت‌های مربوط به تحرک افراد تحریم‌شده، محدودیت در فعالیت‌های حمل ونقل دریایی و کشتی‌رانی، ممنوعیت معاملات تجاری مرتبط با اشیاء و فناوری هسته‌ای و تجارت بین‌المللی است.» وابستگی گسترده بازار افغانستان به کالاهای وارداتی از ایران، به‌ویژه در بخش انرژی، مواد خوراکی و مصالح ساختمانی، سبب شده است که هرگونه محدودیت در دادوستد با ایران، تأثیر مستقیم بر اقتصاد افغانستان داشته باشد. برخی آگاهان اقتصادی نیز تأکید دارند که تحریم‌های تازه، به‌ویژه در بخش بندر چابهار و سیستم بانکی ایران، نه تنها بر روابط تجاری و ترانزیتی افغانستان و ایران اثر منفی خواهد گذاشت، بلکه پیامدهای آن در سطح منطقه نیز احساس می‌شود. تنها در سال گذشته، ارزش تجارت میان افغانستان و ایران به حدود سه میلیارد و ٣٦٦ میلیون دالر رسید، که از این مقدار حدود ۵۵ میلیون دالر صادرات افغانستان به ایران بوده و باقی واردات از ایران به افغانستان انجام شده است.

## ۱۵ میلیارد افغانی پول فرسوده در چهار سال گذشته سوزانده شده است

در چهار سال گذشته، بانک مرکزی افغانستان نزدیک به ۱۵ میلیارد افغانی پول فرسوده را از بازار جمع‌آوری و به آتش کشیده است. سخنگوی بانک مرکزی همچنین تأکید می کند که این نهاد در تلاش است با جمع‌آوری پول‌های فرسوده و ترویج بانکداری دیجیتال، از بازگشت دوبارهٔ این پول ها به بازارهای کشور جلوگیری کند. حسیب‌الله نوری، سخنگوی بانک مرکزی، گفت: «برای کاهش پول نقد در بازار، بانک مرکزی افغانستان روی ترویج بانکداری الکترونیکی در کشور کار می‌کند. در این بخش پیشرفت های زیادی به دست آمده است. از شهروندان می‌خواهیم برای ترویج بانکداری الکترونیکی، از بانک‌های خصوصی کارت‌های AF Pay دریافت کنند.» با این حال، شماری از باشندگان کابل می گویند پول های کهنه همچنان به‌طور گسترده در بازار در گردش است و مشکلات زیادی برای آنان ایجاد کرده است. آنان خواستار اقدامات جدی بانک مرکزی برای حل این مشکل هستند. در حالی که شماری از شهروندان همچنان از مشکلات ناشی از پول‌های فرسوده شکایت دارند، کارشناسان تأکید می کنند که بانکداری عصری نه تنها می‌تواند از فرسوده شدن پول جلوگیری کند، بلکه زمینهٔ شفافیت بیشتر در نظام مالی کشور را نیز فراهم می‌سازد.

## صادرات ازبیکستان به افغانستان در هشت ماه به ۸۷۳ میلیون دالر رسید

کمیته ملی آمار ازبیکستان اعلام کرده که در هشت ماه نخست سال جاری میلادی، صادرات این کشور به افغانستان به بیش از ۸۷۳ میلیون دالر رسیده است. با این حال، آگاهان مسایل تجاری و اقتصادی می گویند در نتیجه نشست‌های مشترک میان سکتورهای خصوصی دو کشور، توافق‌هایی برای گسترش همکاری در بخش‌های تجارت، ترانزیت و سرمایه‌گذاری به دست آمده است. میر شاکر یعقوبی، آگاه مسایل اقتصادی، گفت: «اگر افغانستان سطح تجارت خود با کشورهای منطقه به‌ویژه ازبیکستان را افزایش دهد، این می‌تواند برای هر دو طرف سودمند باشد. از یک‌سو می‌توانیم برای صادرات خود در بازارهای آسیای میانه و ازبیکستان جایگاه پیدا کنیم و از سوی دیگر می‌توانیم از همکاری‌های اقتصادی و تجاری ازبیکستان در اقتصاد افغانستان بهره‌مند شویم، مشروط بر این‌که یک طرزالعمل درست برای استفاده از منافع تجارتی دو طرف ایجاد شود.» از سوی دیگر، اداره احصاییه و معلومات افغانستان، صادرات این کشور به ازبیکستان در شش ماه گذشته را بیش از ۲۸ میلیون دالر برآورد کرده است. اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان نیز می گوید با برگزاری نشست‌های چندجانبه با سکتور خصوصی ازبیکستان، توافق‌های مهمی در زمینه ترانزیت، تجارت و سرمایه‌گذاری‌های مشترک به دست آمده است. افغانستان و ازبیکستان، افزون بر روابط تجارتی و ترانزیتی فعال، پروژه‌های مشترکی در بخش انرژی و حمل‌ونقل نیز روی دست دارند.



# افزایش ۳۰ درصدی در صادرات افغانستان؛ گامی دیگر به‌سوی خودکفایی اقتصادی

نجیب الله مایار

## مقدمه

سطح صادرات افغانستان ۳۰ درصد افزایش یافته است. وزارت صنعت و تجارت افغانستان می‌گوید که در شش ماه اول سال جاری، میزان تجارت افغانستان به شش میلیارد و ۷۸۳ میلیون دالر رسیده است که در مقایسه با شش ماه آخر سال گذشته، ۳۰ درصد افزایش را نشان می‌دهد. افزایش در سطح صادرات، بیانگر بهبود وضعیت اقتصادی کشور، رشد تولیدات داخلی و توجه جدی امارت اسلامی افغانستان به بخش تجارت می‌باشد. امارت اسلامی در چهار سال گذشته با اتخاذ سیاست اقتصادمحور، فراهم سازی تسهیلات در روند صادرات، تقویت تولیدات ملی و عملی‌سازی پالیسی های حمایتی از سرمایه‌گذاران و تاجران، توانسته است زمینه رشد و پیشرفت اقتصادی را فراهم سازد. در شش ماه گذشته، از افغانستان به کشورهای پاکستان، هند، امارات متحده عربی، قزاقستان، ازبیکستان، ترکیه، ایران، چین و عراق کالاهایی به ارزش ۷۴۸ میلیون دالر صادر شده است . در این نوشته، نگاهی گذرا به این موضوع خواهیم داشت:

## افزایش ۳۰ درصدی در صادرات افغانستان

افغانستان در حال حاضر با بیش از ۸۰ کشور جهان روابط تجارتی دارد. امارت اسلامی طی چهار سال گذشته با در پیش گرفتن سیاست اقتصادمحور، افزایش تولیدات ملی، فراهم‌سازی سهولت‌ها در روند صادرات و عملی‌سازی سیاست‌های حمایتی از سرمایه‌گذاران و تاجران، توانسته است زمینه رشد و پیشرفت اقتصادی را فراهم سازد. در نتیجه این تلاش‌ها، در چهار سال گذشته شمار کارخانه های تولیدی در کشور از ۳۵۰۰ به ۶۵۰۰ افزایش یافته است. با افزایش تعداد کارخانه‌ها، میزان تولیدات نیز به طور قابل‌ملاحظه‌ای رشد کرده و برای شمار زیادی از افراد به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم فرصت‌های کاری جدید ایجاد شده است. این امر سبب افزایش سطح تجارت افغانستان نیز گردیده است. این پیشرفت‌ها همچنان ادامه دارد و تازه، در شش ماه اول سال جاری خورشیدی در مقایسه با مدت مشابه سال گذشته، سطح صادرات افغانستان ۳۰ درصد افزایش یافته است. در ماه حمل سال ۱۴۰۴، ارزش مجموعی صادرات کشور ۸۵,۷ میلیون دالر و ارزش مجموعی واردات ۸۴۲,۸ میلیون دالر بوده است. آمارها نشان می‌دهد که در همین ماه بیشترین صادرات به پاکستان، هند و امارات متحده عربی صورت گرفته و بیشترین واردات از ایران، پاکستان و چین انجام شده است. در ماه ثور سال ۱۴۰۴، ارزش مجموعی صادرات کشور به ۱۰۲,۷ میلیون دالر و واردات به یک میلیارد و ۲۴۴ میلیون دالر رسید. در حالی‌که در ماه حمل همین سال، صادرات ۸۵,۷ میلیون دالر بود؛ تحلیل آمارها نشان می‌دهد که در ماه ثور، ارزش صادرات در مقایسه با ماه حمل ۱۷ میلیون دالر افزایش یافته است.

طبق ارقام اداره ملی احصایه و معلومات در ماه جوزا، ارزش صادرات ۶۳,۱ میلیون دالر و واردات ۹۳۷,۲ میلیون دالر بود. آمار نشان می‌دهد که در ماه جوزای سال ۱۴۰۴، بیشترین صادرات افغانستان به پاکستان، هند و امارات متحده عربی صورت گرفته و بیشترین واردات از کشورهای ایران، پاکستان و چین انجام شده است. در ماه سرطان، ارزش صادرات به ۱۰۴ میلیون دالر و واردات به ۱,۱۹۱ میلیارد دالر افزایش یافت. این ارقام نشان می‌دهد که در ماه سرطان، صادرات نسبت به ماه جوزا ۴۰,۹ میلیون دالر





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

افزایش داشــته اســت. در مــاه اســد، ارزش مجموعی صادرات کشور به ۱۴۴،۹ میلیون دالر و واردات به ۱،۱۹۵ میلیارد دالر رسـید. در همه این ماه‌ها، بیشترین صادرات افغانســتان به پاکسـتان، هند و امــارات متحده عربی و بیشــترین واردات از ایران، پاکســتان و چین انجام شده اســت. بر اســاس ارقام اداره ملی احصائیه و معلومات، صادرات شــامل صادرات اولیه و مجدد است، در حالی‌که در واردات، تمامی واردات محصولی و غیرمحصولی شامل است. تأمین امنیت سراسری در کشــور که زمینه را برای فعالیت‌های تجارتی فراهم کرده اســت، توجه و حمایت از تولیدات داخلی در پالیسی‌های اقتصادی امارت اسلامی، اصلاحات در گمرک‌ها و مسیرهای ترانزیتی، فراهم‌سازی تســهیلات بیشــتر برای تاجران و تقویــت و بهبود روابط تجارتی با کشــورهای منطقه، از جمله عواملی هستند که زمینه افزایش تولیدات داخلی را فراهم ساخته و در نتیجه، سبب رشد تجارت در کشور شده‌اند. با افزایش تجارت، به ویژه صادرات، اســعار خارجی وارد کشــور می‌شود که در نتیجه عواید ملی افزایش می‌یابد، برای شــمار زیادی از هموطنان به‌صورت مســتقیم و غیرمســتقیم فرصت‌های کاری فراهم می‌گردد، وابستگی اقتصادی به خارج کاهش می‌یابد و اعتبار تجارتی افغانستان در بازارهای منطقه‌ای و جهانی ارتقا پیدا می‌کند.

## نتیجه گیری

افزایش ۳۰ درصدی صادرات افغانســتان در شش ماه اول سال جاری خورشیدی، نشانه‌ای روشن از حرکت سریع کشور به‌سوی خودکفایی اقتصادی و رشد پایدار است. پیشرفت‌ها در عرصه اقتصادی، تأثیر چشــمگیری بر سایر بخش‌های کشور خواهد داشت و دستیابی به اهدافی را که امارت اسلامی برای خود تعیین کرده است، آسان‌تر می‌سازد. تداوم حمایت امارت اسلامی از تاجران و سرمایه‌گذاران، ساخت و تقویــت زیربناها، توجه به کمیت و کیفیت تولیدات داخلی و گسترش روابط تجارتی با کشورهای منطقه و جهان، می‌تواند در آینده افغانستان را به یکی از کشورهای مهم تولیدکننده و صادر کننده در منطقه مبدل سازد.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۶،۸۵؋ | ۶۶،۸۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۸؋ | ۲۲۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰،۶۱؋ | ۰،۶۲؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۸،۳۶؋ | ۷۸،۴۲؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰،۸۰؋ | ۰،۸۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۵۳؋ | ۷۵۴؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۸۹،۸۴؋ | ۸۹،۹۱؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷،۸۲؋ | ۱۷،۸۴؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸،۲۰؋ | ۱۸،۲۲؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹،۳۷؋ | ۹،۳۷؋ |

